# ۱.د ایشیا فونډیشن د ۲۰۱۰ کال سروی، د راپور لنډیز او مهمی موندنی

## ۱.۱ مهمې موندنې:

- په ۲۰۱۰ زیږدیز کال کې اوه څلویښت فیصده (۴۷٪) ځواب ورکوونکي په دې باور وو چې هیواد په سم لوري روان دی چې دغه د ۲۰۰۸ (۳۸٪) او ۲۰۰۹ (۴۲٪) کلونو په پرتله لوړه شمیره ښيي.

- د دغې خوشبینۍ لوی دلیل بیا هم د امنیت شتون ده چې ۳۸ فیصده ځواب ورکوونکي چې وايي هیواد په سم لوري روان ده، د هغه یادونه کوي. دا فیصدی د ۲۰۰۹ کال په پرتله چې هغه مهال ۴۴٪ ځواب ورکوونکي په دې نظر وو، کمښت ښرګندوي. همداراز د ځواب ورکوونکو له دریمې برخې څخه یو څه زیات یې(۳۵٪) په ۲۰۱۰ کال کې له بیارغاونې څخه یادونه کوي، او د ښوونځیو پرانیستل د نجونو لپاره (۱۵٪) د خلکو د خوشبینیو د دریم دلیل په توګه په ۲۰۱۰ کال کې په خپل ځای کې پاتې دی، که څه هم دغه د ۲۰۰۹ کال په پرتله (۲۱٪) ټیټ شوی ده.

- ناامني د بدبینیو تر ټولو مهم دلیل هم دی چې د ۴۴٪ ځواب ورکوونکو له خوا چې وايي هیواد په ناسم لوري روان دی، ذکر شوی ده. په هر حال په ۲۰۱۰ کال کې د هغو کسانو شمیر چې له ناامنۍ څخه یې یادونه کړې د ۲۰۰۹ کال (۴۲٪) په پرتله زیات شوی ده. همدارنګه، د هغو کسانو شمیر چې له اداري فساد څخه یې د خپلې بدبینۍ د لامل په توګه یادونه کړې د ۲۰۰۹ کال (۱۷٪) په پرتله په ۲۰۱۰ کال کې (۲۷٪) د پام وړ زیاتوالی راغلی ده. د ځواب ورکوونکو د بدبینۍ په نورو دلیلونو کې کمزورې حکومتوالي (۱۸٪) او وزګاري (۱۶٪) راځي.

- ناامني (د بریدونو، تاوتریخوالي او ترهګرۍ په ګډون) له ۳۷ فیصده څخه د زیاتو ځواب ورکوونکو له خوا د افغانستان تر ټولو سترې ستونزې په توګه یاد شو، په تیره بیا په سهیل ختیځ (۵۱٪)، لویدیځ (۴۳٪) اوسهیل لویدیځ (۴۲٪) سیمو کې. وزګاري ته د ۲۸٪ ځواب ورکوونکو له خوا اشاره وشوه چې په دې توګه په دویم ځای کې قرار نیسي. اوه ویشت فیصده ځواب ورکوونکي اداري فساد ته د هیواد د تر ټولو سترې ستونځې په توګه اشاره کوي چې په دې توګه له یوې خوا په ۲۰۱۰ کال کې د افغانستان د لویو ستونزو په دریم کتار کې دریږي او له بله پلوه د هغو ځواب ورکوونکو د شمیر د زیاتوالي ښکارندوینه کوي چې دغه پدیده د هیواد د تر ټولو سترې ستونزې په توګه مطرح کوي ځکه چې په ۲۰۰۹ کال کې ۱۷٪ ځواب ورکوونکو له دغې پدیدې څخه د افغانستان د تر ټولو سترې ستونزې په توګه یادونه کړې وه. له بله پلوه نورې معضلې لکه اقتصادي کمزورتیا (۱۱٪)، ښوونه او روزنه (۱۱٪) او بیوزلي (۱۰٪) هم د پخوا په شان د افغانستان د لویو ستونزو په کتار کې راځي.

- وزګاري بیا هم څه په ملي کچه (۲۸٪) او څه په سیمه ییزه کچه (۲۶٪) د تر ټولو جدي ستونزو په کتار کې شمیرل کیږي. نورې لویې ستونزې په سیمه ییزه کچه د تیر کال په شان په زیربناګانو او د خدمتونو وړاندې کولو پورې اړه لري لکه د بریښنا (۲۸٪)، سړکونو (۲۴٪)، اوبو (۲۲٪) او د روغتونونو/کلنیکونو او روغتیايي مرکزونو (۱۷٪) نشتوالی.

- له نیمايي څخه زیات ځواب ورکوونکي (۵۴٪) په خپل هستوګنځي کې له خپل شخصي خوندیتوب څخه اندېښنه ښکاره کوي؛ مګر په لویدیځ (۶۶٪)، شمال ختیځ (۶۴٪) او سهیل ختیځ (۶۱٪) سیمو کې زیات شمیر ځواب ورکوونکي د هیواد د نورو سیمو په پرتله وايي چې کله ناکله یې د خپل شخصي مصؤونیت په اړه اندېښنه درلودلې ده. همدارنګه د جرمي پیښو او تاوتریخوالي په کچه کې چې په سهیل ختیځ او شمال ختیځ سیمو کې یې دغه ځواب ورکوونکي اغیزمن کړي، د ۲۰۰۹ کال په

پرتله زیاتوالی راغلی دی.

- اوولس فیصده ځواب ورکوونکو وویل چې تیر کال خپله یا د کورنۍ غړي یې د تاوتریخوالي قرباني ګرځیدلي دي. د جرم تر ټولو شایع ډول بیا هم فزیکي برید او ضرب او جرح (۳۵٪) پاتې شوی چې ورپسې بیا اخاذي ګانې (۱۲٪) او ډول ډول غلاوې (۱۲٪ – ۱۰٪) راځي. له هر لس قربانیو څخه یوه یې ادعا کوله چې کومه واقعه چې هغوی ته پیښه شوې د ملیشه او بلواګرو د فعالیتونو (۹٪) له امله وه او له هر ۱۶ تنو څخه یوه یې وویل چې کومه واقعه چې ورپیښه شوه د بهرنیو ځواکونو (۶٪) د فعالیتونو پایله وه. د پوځیانو او بلواګرو د فعالیتونو له امله پیښ شوی تاوتریخوالی زیاتره په مرکزي سیمو/هزاره جات (۲۱٪)، د مرکز حوزه/کابل (۱۵٪)، شمال ختیځ (۱۲٪)، شمال لویدیځ (۹٪)، سهیل لویدیځ (۹٪)، لویدیځ (۹٪) او ختیځ (۸٪) کې یاد شوی ده؛ په داسې حال کې چې د بهرنیو سرتیرو د فعالیت له امله تاوتریخوالی زیاتره په ختیځ (۱۹٪) او سهیل لویدیځ (۱۱٪) کې رپوټ ورکول کیږي.

- د وخت په تیریدو سره په عامه فعالیتونو کې له ګډون څخه ویره زیاته شوې ده. نیمایي (۵۱٪) ځواب ورکوونکو وویل چې په عامه فعالیتونو کې د سیمه ییزو ستونزو د هوارولو په موخه له ګډون کولو څخه ویره نه لري، مګر دا یواځنی مورد دی چې اکثره ځواب ورکوونکو ویل پرته له ویرې پکښې ګډون کولای شي. د هغو ځواب ورکوونکو شمیر چې په ملي ټاکنو کې له ګډون څخه ویره لري له ۲۰۰۹ څخه په ۲۰۱۰ کې زیات شوی دی (له ۵۱٪ په ۲۰۰۹ کې ۶۰٪ ته په ۲۰۱۰ کې). دا موضوع فعلاً د سهیل لویدیځ (۸۳٪)، سهیل ختیځ (۷۸٪)، ختیځ (۶۹٪)، لویدیځ (۶۴٪) او شمال لویدیځ (۶۲٪) سیمو د زیات شمیر ځواب ورکوونکو په مورد کې صدق کوي.

- د دولت ضد مسلح عناصرو سره د مذاکرې او آشتي له لارې د امنیتي وضع د سمون په لار کې د دولت له هڅو څخه د خلکو په ملاتړ کې د ۲۰۰۹ کال په پرتله په ۲۰۱۰ کال کې د پام وړ زیاتوالی راغلی ده. دري اتیا فیصده ځواب ورکوونکي د دولت ضد مسلح عناصرو سره د مذاکرې او آشتي له لارې د امنیتي وضع د سمون په لار کې د دولت له هڅو څخه ملاتړ کوي؛ په داسې حال کې چې په ۲۰۰۹ کال کې یواځې ۷۱ فیصده ځواب ورکوونکو دا ډول ملاتړ څرګنداوه. د ملاتړکچه په ختیځ (۸۹٪)، سهیل ختیځ (۸۵٪) او شمال لویدیځ (۸۵٪) کې تر ټولو لوړه وه خو په مرکزي سیمو/هزاره جات (۷۸٪) کې تر ټولو ټیټه وه. یو اتیا فیصده ځواب ورکوونکي هغو کسانو لپاره چې خپله وسله په ځمکه ږدي او غواړي چې بیرته ټولنې سره یوځای شي د دولت له خوا د کار او هستوګنځي د برابریدو له پالیسۍ څخه ملاتړ کوي، په داسې حال کې چې په ۲۰۰۹ کال کې دغه ملاتړ ۷۱٪ وو. نارینه (۸۸٪) د ښځو (۷۸٪) په پرتله د دولت د دغې پالیسۍ په هکله زیات مثبت نظر لري. د ځواب ورکوونکو له څلورو څخه درې برخې (۷۳٪) په دې نظر دي چې د دولت د پخلاینې هڅې به په هیواد کې ټیکاو (ثبات) رامنځ ته کړي.

- د هغو ځواب ورکوونکو تناسب چې د دولت ضد وسلوالو عناصرو انګیزې تاییدوي د تیر کال له ۵۶٪ څخه په ۲۰۱۰ کال کې ۴۰٪ ته را ټیټ شوی ده. په هر حال، کم تر کمه نیمایي ځواب ورکوونکي په سهیل لویدیځ (۵۲٪)، سهیل ختیځ (۵۰٪) او لویدیځ (۵۰٪) کې وایي چې د مخالفینو انګیزې تر یوه حده تاییدوي.

- د افغانانو ارزونه د هغو د اقتصادي وضعیت په باب په ۲۰۱۰ کې د ۲۰۰۹ کال په پرتله مثبته ده. زیات شمیر افغانان وایي چې هغوی اوس مهال د تیر کال په پرتله د ژوندانه په ټولو ډګرونو کې په تیره بیا د کورنۍ اقتصاد (له ۳۱٪ په ۲۰۰۹ کې ۴۲٪ ته په ۲۰۱۰ کې)، په بازار کې د محصولاتو د شتون (له ۱۹٪ په ۲۰۰۹ کې ۲۷٪ ته په ۲۰۱۰ کې)، د غذایي رژیم د کیفیت (له ۲۳٪ په ۲۰۰۹ کې ۳۳٪ ته په ۲۰۱۰ کې) او کاري فرصتونو (له ۱۱٪ په ۲۰۰۹ کې ۱۷٪ ته په ۲۰۱۰ کې) له پلوه په

بهتره وضعیت کې قرار لري.

- د سیمه ییزو آسانتیاوو او خدمتونو په برخه کې، ځواب ورکوونکو بیا هم ماشومانو ته د ښوونیزو خدمتونو له شتون (۶۸٪)، د څښاک اوبو (۶۳٪) او په سیمه کې په خوندي توګه د تګ راتګ له توان (۶۳٪) څخه ډېر رضایت وښوده. له نیمایي څخه یو څه کمو ځواب ورکوونکو د اوبو لګولو (۴۹٪) او کلنیکونو او روغتونونو (۴۶٪) له اړوندو خدمتونو څخه خوښي څرګنده کړه. تر ټولو کم رضایت ځواب ورکوونکو د برېښنا له انرژۍ څخه د برخمنتیا او کارپیداکولو ته د لاس رسي په برخو کې وښود. دوه اویا فیصده ځواب ورکوونکو د کار د زمینې له نشتوالي او ۶۶٪ یې د برېښنا انرژۍ ته د نه لاس رسي څخه شکایت وکړ.

- له نیمایي څخه زیات ځواب ورکوونکي (۵۴٪) وایي چې د خپل اوسیدو په سیمه کې د ښوونې او د پلونو او سړکونو د جوړولو له اړوندو پراختیایي پروژو څخه خبر دي. څلوېښت فیصده ځواب ورکوونکي د څښاک د اوبو له پروژو څخه خبر دي، ۳۹٪ یې له روغتیایي پروژو څخه خبر دي او ۲۸٪ یې د برېښنا له پروژو څخه باخبره دي. له پراختیایي پروژو څخه د خبریدو د کچې توپیر په مختلفو سیمو کې دا خبره په ډاګه کوي چې د تمویل کوونکو (دونرانو) له خوا تمویل شوې پراختیایي پروژې د هیواد په ځینو سیمو کې په تیره بیا په ختیځو سیمو کې زیاتې متمرکزې دي په داسې حال کې چې په نورو سیمو کې په تیره بیا په مرکزي سیمو/هزاره جات او لویدیځو سیمو کې د پراختیایي بسپنو په هکله د خلکو د خبرتیا کچه ټیټه ده.

- د مرکزي حکومت له اجراآتو څخه رضایت په تیرو درې کلونو کې په تدریجي توګه زیات شوی ده (له ۶۷٪ څخه په ۲۰۰۸ کې کې ۷۱٪ ته په ۲۰۰۹ کال کې او ۷۳٪ ته ۲۰۱۰ کال کې). په ۲۰۱۰ کال کې د دولت د اجراآتو په اړوند تقریباً د هیواد په ټولو سیمو کې د مثبتې ارزونې تر ټولو لوړه کچه ثبت شوې ده. د دولت له پالیسیو او خدمتونو څخه رضایت په ختیځ، شمال لویدیځ او مرکزي حوزې/کابل کې تر ټولو اوچت وو. د دولت هغه لاس ته راوړنې چې په کثرت سره یې یادونه کیږي د ښوونیز سیستم سمون (۲۷٪)، بیارغاونه (۲۴٪) او د سولې او ثبات خوندي کیدل (۲۴٪) دي. له بله پلوه له اداري فساد (۳۷٪)، نا امني (۳۰٪)، د کاري فرصتونو نشتوالي (۱۷٪) او د حکومت له کمزورتیا څخه د حکومت د ناکامیو په توګه یادونه کیږي.

- د سیمې په کچه ځواب ورکوونکو تر ټولو زیات د ولایتي شوراګانو له اجراآتو (۷۸٪) او په تعقیب یې د ولسوالیو د چارواکو (۶۱٪) او ښاروالیو (۵۳٪) له اجراآتو څخه خوښي څرګنده کړه. په ۲۰۱۰ کال کې د ولایتي حکومتونو له کړنو څخه د خوښي کچه لوړه شوې (له ۷۵٪ څخه په ۲۰۰۹ کې ۷۸٪ ته) خو د ولسوالیو د چارواکو (له ۶۹٪ څخه په ۲۰۰۹ کې ۶۱٪ ته) او ښاروالیو چارواکو (له ۵۸٪ څخه په ۲۰۰۹ کې ۵۳٪ ته) په هکله راټیټه شوې ده.

- زیاتره ځواب ورکوونکي په دې آند دي چې اداري فساد د ژوندانه په ټولو ډګرونو او د حکومت په ټولو کچو کې یوه لویه ستونزه ده. پنځه پنځوس فیصده ځواب ورکوونکي وایي چې اداري فساد د هغو په ژوند کې ستونزې راولاړې کړې دي. پنځوس فیصده ځواب ورکوونکي اداري فساد د خپلې سیمې په کچه، ٪۵۶ یې د سیمه ییزو چارواکو په کچه، ٦۵٪ یې د ولایتي ادارې په کچه او ۷۶٪ یې د هیواد په کچه یوه جدي ستونزه بولي. کابو نیمایي هغه ځواب ورکوونکي چې په مختلفو مواردو کې لکه د روغتیایي خدمتونو غوښتنه، د کار لپاره درخواست، د رسمي اسنادو تر لاسه کول او له پولیس یا محکمو سره د اړیکو د نیولو په ترڅ کې د اداري فساد له مختلفو کچو سره مخ شوي دي.

- په منتخبو نهادونو د اعتماد کچه لوړه پاتې شوې ده. منتخب نهادونه د ځواب ورکوونکو د دوه دریمې برخې له ملاتړ څخه برخمن دي په شمول د سیمه ییزو شورا ګانو او جرګو (۶۶٪)، ولایتي شورا ګانو (۶۲٪)، د کلیو پراختیایي شوراګانو (۶۱٪) او پارلمان ( ۵۹٪). اوه شپیته فیصده ځواب ورکوونکي په دې آند دي چې پارلمان یو ګټور ارګان دی (د هغوڅخه ۲۸٪ بیا وایي چې پارلمان خورا زیات ګټور ارګان دی). څلور شپیته فیصده ځواب ورکوونکي وایي چې په پارلمان کې د خپلو استازو له کار څخه خوښ دي.

- په ملي کچه ۲۵٪ ځواب ورکوونکي وایي چې نن ورځ د تیر کال په پرتله د خپلو نظریاتو په بیانولو کې د زیات خوندیتوب احساس کوي، په داسې حال کې چې ۱۷٪ یې په دې باور دي چې دمګړۍ دغه کار د تیر کال په پرتله زیات خطرونه له ځانه سره لري په ځانګړې توګه په سهیل لویدیځ (۲۷٪)، سهیل ختیځ (۲۱٪) او مرکزي حوزې/کابل (۲۰٪) کې. له فردي خوندیتوب څخه اندېښنه (۳۴٪)، په سیمو کې د ډاډمن امنیت نشتوالی (۲۵٪)، د طالبانو شتون (۲۴٪) او د سیاسي عقیدو په بیانولو باندې د حکومت له خوا د قیوداتو وضع کیدل (۱۱٪) د بیان د آزادۍ په وړاندې د ټولو سترو خنډونو په توګه په ګوته شول.

- یو اتیا فیصده ځواب ورکوونکي وایي چې د مشارکت او استازیتوب په اړوند د ټولو ډلو د حقوقو د برابرۍ دموکراتیک اصول مني. دا شمیره له ۲۰۰۹ کال څخه راپدیخوا ثابته مګر له ۲۰۰۷ کال څخه راپدیخوا چې کوم نزولي سیر لري هغه په خپل حال پاتې ده (له ۹۰٪ نه ۲۰۰۶ او ۲۰۰۷ کال کې ۸۴٪ ته ۲۰۰۸ او ۸۰٪ ته ۲۰۰۹ کال کې چې بالاخره په ۲۰۱۰ کال کې ۸۱٪ ته رسیدلی ده). سره له دې، له سیاسي سوله ییز اپوزیسیون څخه د ملاتړ کچه ۲۰۱۰ کال کې ۸۳٪ ته رسیدلې چې د هغه له دوامداره سقوط څخه وروسته – څرنګه چې په ۲۰۰۶ کې ۸۴٪، په ۲۰۰۷ کې ۸۱٪، په ۲۰۰۸ کې ۷۸٪ او په ۲۰۰۹ کې ۷۷٪ وو – د پام وړ زیاتوالی ښکاروي.

- په ۲۰۱۰ کال کې خلکو بیا هم له ټاکنو څخه مثبت تصور درلود. کابو درې پر څلورو (۷۴٪) ځواب ورکوونکي وایي هغوي ډاډه دي چې ټاکنې د هیواد د چارو د سمون لامل ګرځي. خو له دې سره سره، په ۲۰۱۰ کال کې د ټاکنو په اړوندو ارګانونو باندې – د ټاکنو د خپلواک کمیسیون (له ۶۷٪ څخه ۲۰۰۹ کې ۵۴٪ ته ۲۰۱۰ کې) او سیاسي ګوندونو (له ۴۷٪ څخه ۲۰۰۹ کې ۴۳٪ ته ۲۰۱۰ کې) – د خلکو ډاډ او باور کم شوی ده.

- اکثره ځواب ورکوونکي (۵۴٪) په دې باور دي چې د ۲۰۰۹ کال ولسمشرۍ ټاکنې آزاده او عادلانه وې. مګر دغه شمیره د هغو ۶۴٪ ځواب ورکوونکو په پرتله چې په ۲۰۰۹ کال کې له ټاکنو څخه مخکې یې وړاندوینه کړې وه چې ټاکنې به آزاده او عادلانه وي، کمه شوې ده. دا عقیده چې د ۲۰۰۹ کال ټاکنې آزاده او عادلانه نه وې په سهیل ختیځ (۴۷٪)، سهیل لویدیځ (۴۴٪)، مرکزي سیمو/هزاره جات (۲۹٪)، شمال لویدیځ (۲۷٪) او ختیځ (۲۷٪) کې زیاته وه. هغه ځواب ورکوونکو چې ادعا یې کوله چې د ۲۰۰۹ کال د ولسمشرۍ ټاکنې آزاده او عادلانه نه وې، یو لړ ستونزې لکه د رایو په شمیرنه کې درغلي (۴۰٪) او د رایو پیرودل (۳۳٪) یې د خپل دغه باور د دلیل په توګه معرفي کړلې. یو کم شمیر ځواب ورکوونکو (۷٪) وویل چې د ښځو پر ځای نارینه وو رایه ورکړه.

- دا سروې د ۲۰۱۰ کال په جون میاشت کې تر سره شوه په داسې حال کې چې ټاکنې د سروې له نیټې څخه درې میاشتې وروسته یعنې په سپټامبر کې تر سره کیدې. په دغې نیټې ۷۸٪ ځواب ورکوونکي له ټاکنو څخه خبر وو. د ۲۰۱۰ کال له پارلماني ټاکنو څخه د عامو خلکو د خبرتیا کچه د ۲۰۰۹ کال د ولسمشرۍ ټاکنو څخه د خبرتیا له کچې(۸۵٪) څخه ټیټه وه او هم د ۲۰۰۴ کال د ولسمشرۍ ټاکنو په پرتله چې درې میاشتې مخکې یې ۹۱٪ ځواب ورکوونکي له دغو ټاکنو څخه خبر

وو، د پام وړ سقوط یا نزول څرګندوي. درې برخو (۷۴٪) ځواب ورکوونکو وویل چې په پارلماني ټاکنو کې به رایه ورکړې او ۳۹٪ یې وویل چې ددې شونتیا خورا زیاته ده چې رایه به ورکړې. دا شمیرې د ۲۰۰۹ کال د ولسمشرۍ او ولایتي شورا ګانو په ټاکنو کې د مشارکت شمیرو سره ورته والی لري، سره له دې چې په ۲۰۰۹ کال کې شاوخوا نیمایي ځواب ورکوونکو (۴۹٪) وویل چې په اغلب ګمان به رایه ورکړي. مګر ولیدل شول چې د ۲۰۱۰ کال په پارلماني ټاکنو کې د خلکو د ګډون اراده د هغوي د حقیقي ګډون له کچې څخه چې ۴۰٪ محاسبه شوې ده خورا لوړه وه.

- د تیر کلونو په شان ښوونه او د سواد زده کړه (۳۱٪) د ښځو د لویو ستونزو په کتار کې پاتې ده. د جنسیت (جندر) له اندېولتوب څخه ملاتړ د یو شان ښوونیزو فرصتونو (۸۷٪) په ګډون بیا هم پورته ثبت شوی ده. د هغو کسانو تناسب چې له کور څخه بهر د ښځو د کار پلویان دي کال تر کاله را ټیټ شوی دی څو له ۷۱٪ څخه په ۲۰۰۶ کې خپلې تر ټولو ټیټې کچې (۶۴٪) ته په ۲۰۱۰ کال کې ورسیږي.

- راډیو تر اوسه هم د افغانو کورنیو لپاره تر ټولو زیاته د لاس رسۍ وړ وسیله پاتې شوې ده. دوه اتیا فیصده ځواب ورکوونکي وایي چې یوه فعاله راډیو لري او هم د کلیوالو کسانو شمیر چې راډیو لري د ښاري کسانو له شمیر سره چې فعاله راډیو لري کم توپیر لري. د معلوماتي ټکنالوژۍ نورې وسیلې لکه ټلویزیون، ګرځنده ټلیفون او کمپیوټر په ښارونو کې د کلیو په پرتله زیات د لاس رسۍ وړ دي. له نیمایي څخه کم (۴۶٪) ځواب ورکوونکي له خبرونو څخه د خبریدو لپاره زیاتره راډیو کاروي په داسې حال کې چې ۲۸٪ ځواب ورکوونکي په دغه منظور له ټلویزیون څخه کار اخلي. له هر پنځه تنو څخه یو تن (۱۹٪) د خبرونو د تر لاسه کولو لپاره خپل انډیوالان او کورنۍ کاروي. د ټیټ عاید لرونکې کورنۍ اوس هم راډیو (۶۸٪) او ټلویزیون ته (۶۹٪) تر ټولو کم لاس رسي لري.

- د تیرو کلونو په پرتله ۲۰۱۰ کال د ګرځنده ټلیفونونو د مالکیت د زیاتوالي شاهد وو. دمګړۍ اکثره ځواب ورکوونکي (۵۹٪) دغې ټکنالوژۍ ته لاسرسی لري.

**۲.۱ لنډیز**

د ۲۰۱۰ کال په سروې کې ولیدل شول د ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کال په پرتله زیات شمیر ځواب ورکوونکي په دې باور دي چې هیواد په سم لوري روان دی او کم شمیر ځواب ورکوونکي وایي چې هیواد په ناسم لوري روان دی.

د تیرو کلونو په شان سږ کال هم امنیت د یوې لویې اندیښنې او مهم لامل په توګه چې په واسطه یې افغانان د خپل هیواد پرمختګ او وده ارزوي، پاتې شوی ده. ښه امنیت د ځواب ورکوونکو د خوشبینۍ د اصلي لامل په توګه ګڼل کیږي سره له دې چې سږ کال د ۲۰۰۹ کال په پرتله کم شمیر ځواب ورکوونکو ددې یادونه وکړه. په همدې توګه ناامني د بدبینۍ د عمده دلیل په توګه هم یاد شوی ده چې د ۲۰۰۹ کال په پرتله سږ کال زیات شمیر ځواب ورکوونکو ورته اشاره وکړه.

نا امني (د بریدونو، تاوتریخوالي او ترهګرۍ په ګډون) د افغانستان تر ټولوستره ستونزه بلل کیږي، په تیره بیا په سهیل ختیځ، لویدیځ او سهیل لویدیځ کې. سربیره پر دې، امنیتي شرایطو په ۲۰۱۰ کال کې د مرکزي سیمو/هزاره جات په استثنا د هیواد په ټولو سیمو کې د سروې کوونکو د تګ را تګ په وړاندې زیات خنډونه پیښ کړي وو. ددې مانا دا ده چې ناامنیو اوس د افغانستان زیاتې سیمې اغیزمنې کړې

دي. ناامنه سيمو ته د سروې کوونکو د لاس رسۍ محدوديت ته په پام سره اړينه ده چې د ۲۰۱۰ کال په سروې کې د هيواد د امنيتي وضعيت ارزونې او اړونده ارقام په احتياط سره تعبير او تفسير شي.

د شخصي خونديتوب او په بيلابيلو عامه فعاليتونو کې د ګډون په اړه ويره د ځواب ورکوونکو په منځ کې په پرله پسې توګه د زياتيدو په حال کې ده خو دليلونه يې په بيلابيلو سيمو کې توپير لري. په داسې حال کې چې په سهيلي او لويديځو سيمو کې د شخصي خونديتوب په اړه انديښنې به له ناامنۍ سره تړاو ولري، په شمال ختيځ او جنوب ختيځ کې دغه راز د خطر د احساسولو لامل د جرمونو او تاوتريخوالي د کچې لوړيدل دي چې د سروې د ځواب ورکوونکو له خوا تجربه شوي دي.

په ۲۰۱۰ کال کې يواځنی فعاليت چې ځواب ورکوونکو ويل پرته له ويرې پکښې ګډون کولای شي، د سيمه ييزو ستونزو هوارول دي. د هغو ځواب ورکوونکو شمير چې په ملي ټاکنو کې له ګډون څخه يې ويره درلوده د ۲۰۰۹ کال په پرتله چې په ټاکنو کې د دولت ضد عناصرو له خوا د رای ورکوونکو د تهديد او ارعاب، او د درغليو رپوټونه يې ورکول، زيات وو. په ۲۰۱۰ کال کې ځواب ورکوونکو له ټولو اتو زونونو څخه په پنځه زونونو کې په ټاکنو کې له ګډون څخه خپله ويره څرګنده کړه. همدارنګه د نورو عامه فعاليتونو په هکله لکه د انتخابي ځوکيو کانديداتوري او په سوله ييزو مظاهرو کې ګډون کې هم په ورته اندازه ويره موجوده ده.

د هغو کسانو شمير چې په عملي توګه د جرم او تاوتريخوالي قرباني ګرځيدلي نسبتاً کم ده، سره له دې چې د هغو جرمي عملونو رپوټونه چې خلک يې قرباني شوي دي د هيواد په شمال ختيځ او سهيل ختيځ کې زيات شوي دي. قربانيان په اکثره مواردو کې جرمونه ملي پوليس ته رپوټ ورکوي، په ځانګړې توګه په ښارونو کې چيرته چې پوليسو ته لاس رسی آسانه دی. سربيره پر هغې، له جرمونو څخه نورو حکومتي ارګانونو او ټولنيزو نهادونو ته د ولسوال، ملي اردو، شوراګانو/سيمه ييزو مشرانو، د قومونو مشرانو/ملکانو او علماؤ په ګډون هم رپوټ ورکول کيږي. ملي اردو او ملي پوليسو سږ کال هم د تر ټولو د ډاډ وړ عامه ارګانونو په توګه خپل موقف ساتلی ده او اکثره ځواب ورکوونکي په دې باور دي چې دغه دوه ارګانونه د خپلو دندو په تر سره کولو کې برياليي دي، سره له دې چې هغوی فکر کوي چې دواړه دغه ارګانونه يعنې ملي اردو او ملي پوليس غير مسلکي دي او سم ندي روزل شوي او د بهرنيو ځواکونو مرستې ته اړتيا لري. له بله پلوه د هغو ځواب ورکوونکو شمير چې فکر کوي ملي پوليس د امنيت په سمون کې ګټور واقع کيږي د تير کال په پرتله کم شوي دي.

د دولت ضد وسله والو عناصرو سره د مذاکرې او د هغو د مجدد ادغام له ليارې د امنيتي وضعيت د سمون په خاطر د دولت له هڅو څخه د ځواب ورکوونکو ملاتړ سږ کال د ۲۰۰۹ کال په پرتله زيات وو. دغه حالت ددې ښکارندوی ده چې د افغانستان زيات شمير خلک اوس د هيواد د جاري شخړو لپاره د سياسي حل لارې پلوي کوي، نه يواځې د پوځي حل لارې. د دولت ضد وسله والو عناصرو له مجدد ادغام څخه د ملاتړ تر ټولو لوړه کچه د هيواد په ختيځ او لويديځ کې، چيرته چې په ورته وخت کې د مخالفينو د انګيزو د تاييد کچه هم خورا لوړه ده، ثبت شوی ده. ښځې د نارينه وو په پرتله د مخالفينو د مجدد ادغام لپاره د دولت له هڅو څخه کم ملاتړ کوي او کم په دې نظر دي چې د دولت ضد وسله والو عناصرو مجدد ادغام به په هيواد کې د ثبات د استقرار لامل وګرځي. هزاره ګان د هغو ځواب ورکوونکو اکثريت جوړوي چې وايي د دولت ضد وسله والو کسانو مجدد ادغام به په هيواد کې سوله او ثبات راولي، مګر له پخوانيو مليشه وو سره د دولت له مذاکرې او د هغو له مجدد ادغام څخه د هغو ملاتړ خورا ټيټ وو. ددې خبرې مانا دا ده چې د مجدد ادغام لپاره د دولت له هڅو څخه نه ملاتړ په دغې سيمه کې له امنيتي انديښنو او ثبات سره تړاو نه لري.

په ۲۰۱۰ کال کې د ۲۰۰۹ کال په پرتله افغانانو خپل اقتصادي وضعيت ډير مثبت وارزاوه. زيات شمير افغانان وايي چې هغوي سږ کال د تير کال په پرتله د ژوندانه په ټولو ډګرونو کې په تيره بيا د کورني اقتصاد له نظره په بهتره حالت کې دي. خو ټول افغانان په انډوليزه توګه له دغه امتياز څخه برخمن ندي څرنګه چې هغو ځواب ورکوونکو چې د لوړ عايد لرونکو په کټګورۍ کې راځي د هغو کسانو په پرتله چې د

ټيټ عايد لرونکو کټګورۍ کې راځي زياتره دا خبره کوله چې په دې يوه کال کې يې اقتصادي وضعيت ښه شوی دی. داسې ښکاري چې اشتغال يا کار ته لاس رسی به تر ټولو ستر فکتور وي چې د اقتصادي هوساينې په هکله د افغانانو نظر ته شکل ورکوي. وزګاري يو ځل بيا په ۲۰۱۰ کال کې په ملي او سيمه ييزه کچه د تر ټولو سترې ستونزې په توګه ياده شوه او اکثره ځواب ورکوونکو اقتصاد ته په وده ورکولو او د کار د زمينې په برابرولو کې د دولت له کړنو څخه خپله نارضايتي څرګنده کړه.

د وزګارتيا تر څنګ د برېښنا، سړکونو، اوبو او روغتيايي مرستو په شان د خدمتونو او زيربناګانو نشتوالی تر اوسه هم د سيمه ييزو ستونزو د لړليک په سر کې ځای لري. ځواب ورکوونکي بيا هم د برېښنا انرژۍ د تامين له کچې څخه ناخوښ وو او د هيواد په ختيځ، لويديځ او شمال لويديځ کې د برېښنا له انرژي څخه د تر ټولو مهمې اړتيا په توګه يادونه وشوه. په مرکزي حوزه/کابل، سهيل لويديځ او شمال ختيځ کې د سړک ستونزه د لومړيتوبونو په سر کې ځای لري. په داسې حال کې چې د هيواد په سهيل ختيځ کې اوبه، په ځانګړې توګه کرنيزې اوبه، د تر ټولو مهمو اړتياوو په توګه په ګوته شوې، په مرکزي سيمو/هزاره جات کې له روغتيايي خدمتونو څخه د ټولو څخه مهمې اړتيا په توګه يادونه وشوه. په ټوليزه توګه د وخت په تيريدو سره د آسانتياوو او روغتيايي خدمتونو په کچه کې د پام وړ سمون ندی رامنځ ته شوی او د کلنيکونو، روغتونونو او درمل له شتون څخه د رضايت کچه له ۲۰۰۷ کال څخه راپديخوا په دوامداره توګه ټيټه شوې ده.

له بله پلوه، ځواب ورکوونکي د بيارغاونې او پراختيا په هکله، چې د اهميت له پلوه د هغو ځواب ورکوونکو د خوشبينۍ دوهم دليل دی چې وايي هيواد په سم لوري روان دی، مثبت نظر لري. د تيرو کلونو په شان، ځواب ورکوونکو د خپلو اولادونو لپاره په سيمه کې د ښوونې او روزنې د خدمتونو د شتون څخه خپله خوښي څرګنده کړه او هم د نجونو د ښوونځيو پرانيستل، که څه هم له ۲۰۰۹ کال څخه په ټيټه درجه کې ده، د خوشبينۍ د دلايلو په کتار کې ذکر شو.

د تيرو کلونو په شان، اکثره ځواب ورکوونکي وايي چې له پراختيايي پروژو څخه چې د ښوونې او د سړکونو او پلونو د جوړولو په برخو کې د هغو د اوسيدو په سيمه کې تطبيقيږي، خبر دي. په هر حال، له پراختيايي پروژو څخه د مختلفو سيمو د اوسيدونکو د خبرتيا د کچې توپير دا په ګوته کوي چې د نړيوالو بسپنه ورکوونکو له خوا د تمويل شويو پراختيايي پروژو تمرکز د هيواد په ځينو ځانګړو سيمو باندې ده په تيره بيا د هيواد په ختيځو سيمو کې، په داسې حال کې چې ځواب ورکوونکي په نورو سيمو کې، په ځانګړې توګه په مرکزي سيمو/هزاره جات او په کمه کچه په شمال لويديځ کې، له پراختيايي فعاليتونو څخه په ټيټه کچه خبر دي. دا وضعيت ښايي څه ناڅه د بسپنه ورکوونکو د هغو استراتيژي ګانو پايله وي چې غواړي پراختيايي اقدامات له پوځي اقداماتو سره يوځای کړي. د امنيت اړوندو پروژو لکه ماين پاکي او بې وسلې او ملکي کولو پروژو څخه د خبرتيا کچه هم د هيواد په ختيځ او شمال ختيځ کې تر ټولو اوچته ده.

په ۲۰۱۰ کال کې د تيرو کلونو په پرتله په محلي او نړيوالو غير حکومتي مؤسسو باندې د خلکو اعتبار کم شوی ده. له دې بې باورۍ سره دا برداشت جوخت دی چې ګواکې غير حکومتي مؤسسې او د هغو بسپنه ورکوونکي مراجع د افغانستان د خلکو د ګټو پر بنسټ نه بلکې د خپلو ګټو په پام کې نيولو سره پريکړې کوي. ښايي په غير حکومتي مؤسسو باندې د خلکو د بې باورۍ يو لامل د دغو مؤسسو پر کار باندې د حاکم حقوقي چوکاټ بدلون هم وي چې د هغو کار خلکو ته کم د ليدو او لمس وړ ګرځوي.

د حکومت له اجراآتو څخه د خلکو په رضايت کې په تيرو دريو کلونو کې په دوامداره توګه زياتوالی راغلی او په ۲۰۱۰ کال کې تقريباً په ټولو سيمو کې خپل تر ټولو اوچت حد ته رسيدلی دی. تر ټولو زياته خوښي د شمال لويديځ، ختيځ او شمال ختيځ سيمو د ځواب ورکوونکو له خوا ښودل شوې ده. دا هغه سيمې دي چې د هغو ځواب ورکوونکو اکثريت پکښې پروت ده چې وايي هيواد په سم لوري روان دی.

د تعليم او تحصيل، روغتيا او امنيت په شان د لومړنيو عامه خدمتونو په وړاندې کولو کې د حکومت اجراآت تر ټولو زيات مثبت خو د اقتصادي ودې، کاري فرصتونو د برابرولو او اداري فساد سره د مبارزې په برخو کې تر ټولو کم مثبت ارزول شوي دي. دا موندنې په سيمو کې د لومړنيو خدمتونو او آسانتياوو د شتون په هکله د ځواب ورکوونکو له نظرونو سره اړخ لګوي، چې په څرګنده ډول ددې ښکارندويه ده چې د حکومت د اجراآتو په اړه د خلکو ارزونه په سيمو کې د لومړنيو عامه خدمتونو په برابرولو کې د حکومت له وړتيا سره تړاو لري. د حکومت تر ټولو سترې لاس ته راوړنې چې ځواب ورکوونکو يې يادونه کړې په پراخه کچه د هغو ځواب ورکوونکو د خوشبينۍ له دليلونو سره ورته والی لري چې وايي هيواد په سم لوري روان دی، او همدا موضوع د حکومت د تر ټولو لويو ناکاميو په هکله هم صدق کوي چې د ځواب ورکوونکو د بدبينۍ دليلونه پکښې منعکس کيږي. د دې مانا دا ده چې ځواب ورکوونکي په دې باور دي چې حکومت د مثبتې ودې او پراختيا په لور د هيواد رهبري کولو کې مهم رول لري.

په سيمه ييزه اداره کې، ځواب ورکوونکي د ولايتي شورا ګانو تر ټولو زياته مثبته ارزونه کوي چې ورپسې بيا د ولسواليو چارواکي او ښاروالۍ راځي. له ولايتي اداري څخه تر ټولو زيات رضايت په شمال ختيځ او مرکزي سيمې/هزاره جات کې ثبت شو په داسې حال کې چې په سهيل ختيځ او سهيل لويديځ کې په دې هکله د ځواب ورکوونکو رضايت تر ټولو کم وو. په ۲۰۱۰ کال کې په ټوليزه توګه په ټول هيواد کې او په تيره بيا په شمال لويديځ، شمال ختيځ، سهيل لويديځ او مرکزي سيمه/هزاره جات کې د ښاروواليو له اجراآتو څخه د رضايت کچه د ۲۰۰۹ کال په پرتله را ټيټه شوې ده. له بله پلوه په ختيځ، لويديځ او سهيل ختيځ کې د ښاروواليو د چارواکو د اجراآتو په اړه رضايت زيات شوی ده. د کليوالو سيمه ييزو چارواکو د اجراآتو په هکله د مثبتې ارزونې کچه د مرکزي سيمې/هزاره جات په استثنا نور کابو په ټولو سيمو کې په ۲۰۱۰ کال کې د ۲۰۰۹ کال په پرتله کمه شوې ده.

ډيری افغانانو بيا هم وويل چې اداري فساد د ژوندانه په ټولو ډګرونو او د حکومت په ټولو کچو کې يوه لويه ستونزه ده. په ۲۰۱۰ کال کې د ۲۰۰۹ کال په پرتله د هغو ځواب ورکوونکو په شمير کې د پام وړ زياتوالی راغلی چې اداري فساد د افغانستان له سترو ستونزو څخه بولي، او هم د هغو ځواب ورکوونکو د بدبينۍ يو مهم دليل دی چې وايي هيواد په ناسم لوري روان دی. همدارنګه د حکومت د ناکاميو په کتار کې په اداري فساد باندې د نامنۍ په پرتله زياتې ټينګار شوی. له دې څخه داسې جوتيږي چې ځواب ورکوونکي داسې فکر کوي چې حکومت له اداري فساد سره د مبارزې لپاره په يوه مناسب حالت او وضعيت کې قرار لري خو له دغې پديدې سره په مبارزه کې پاتې راغلی ده. د ځواب ورکوونکو دا مفکوره د هغو له دې تجربې څخه نشأت کوي چې په دريمه برخه يا نيمايي ټولو هغو اړيکو کې چې له دولتي ارګانونو سره نيول کيږي اداري فساد ښکيل دی.

په رسمي او هم غير رسمي منتخبو جوړښتونو ډاډ او باور لکه د سيمې شورا او جرګې، ولايتي شورا ګانې، د کليو پراختيايي شورا ګانې او پارلمان، په نسبي توګه لوړ پاتې شوی ده. له پخوا څخه يو څه زيات ځواب ورکوونکي په دې باور دي چې حکومت د پريکړو پر مهال خپلې ګټې نه بلکې د ملت ګټې په نظر کې نيسي، خو د محاکمو او پارلمان په ګډون د نورو دولتي ارګانونو په برخه کې دا خبره صدق نه کوي. په هر حال، ډيری ځواب ورکوونکي په ځانګړې توګه په شمال لويديځ، ختيځ، شمال ختيځ، لويديځ او مرکزي سيمه/هزاره جات کې له هغو وکيلانو څخه خوښې څرګندوي کوم چې په پارلمان کې له هغو څخه استازيتوب کوي. د مرکزي سيمې/هزاره جات په استثنا پاتې يادشوي زونونه هغه زونونه دي چې په دې خبره تر ټولو زيات ډاډ لري چې د حکومت په پريکړو باندې اغيزه لرلی شي، او همداراز د مرکزي حکومت له اجراآتو او د حکومت له خوا د خدمتونو له وړاندې کيدو څخه تر ټولو زيات رضايت لري. له دې څخه داسې پايله په لاس راځي چې په عمومي توګه د وکيلانو د اجراآتو په باب نظرونه او د حکومت د اجراآتو په باب نظرونه له يو بل سره نږدې تړاو لري. برعکس، سهيل لويديځ او سهيل ختيځ زونونه په ترتيب سره د يادو شويو مواردو په هکله تر ټولو ټيټ باور او رضايت ښکاروي.

د حکومتوالۍ د دموکراتيکو اصولو له پلي کيدو څخه ملاتړ بيا هم لوړ وو. د تير کال په اوږدو کې د بيان د آزادۍ په څرنګوالي کې بيا هم يوڅه بدلون راغلی ده ځکه چې زيات شمير ځواب ورکوونکو وويل چې د سياسي نظرونو په ورکولو کې ځان خوندي احساسوي او کم شمير ځواب ورکوونکو وويل چې د سياسي نظرونو له ورکړې څخه ويره لري. د هر بل قوم په پرتله د پښتون قوم زيات شمير ځواب ورکوونکو وويل چې دمګړۍ د تير کال په پرتله د هغو لپاره د نظرونو بيانول چندان خوندي عمل ندی. د بيان د آزادۍ په وړاندې د پرتو خنډونو څخه ډيری په سهيل لويديځ، سهيل ختيځ او مرکزي حوزې/کابل کې يادونه وشوه. همداراز، سهيلي زون هغه زون دی چې پکښې له نا امنۍ څخه د سيمې د تر ټولو سترې ستونزې په توګه يادونه کيږي. له دغو ځوابونو څخه دا پايله تر لاسه کيږي چې د سيمې امنيتي شرايط او د بيان د آزادۍ ضمانت هغه اساسي فکتورونه دي چې خلکو ته ډاډ ورکوي څو په ډاډه زړه خپل نظرونه څرګند کړي.

د ټولو ډلو او قشرونو د مشارکت يا ګډون او استازيتوب په برخه کې د حقوقو د انډول له دموکراتيکو اصولو سره موافقت لوړ پاتې شوی خو هغه نزولي سير چې له ۲۰۰۶ کال څخه راپديخوا جريان لري نه معکوسوي. په هر حال، د اپوزيسيون له سوله ييزه فعاليتونو څخه ملاتړ، له ۲۰۰۶ کال څخه راپديخوا د دوامداره سقوط څخه وروسته، په ۲۰۱۰ کال کې د پام وړ زياتوالی ښيي. په ۲۰۱۰ کال کې ډيری ځواب ورکوونکي له دې نظر سره موافق وو چې يو شخص بايد په هماغه طريقه رايه ورکړي چې د سيمې خلک يې ورکوي، نه په هغه طريقه چې دی يې شخصاً خوښوي، خو دا شميره له ۲۰۰۸ کال څخه راپديخوا د نزول په حال کې ده. يوازې د هيواد په شمال ختيځ کې ډيری ځواب ورکوونکو وويل چې هر څوک بايد وکړای شي چې له خپلې خوښې سره سم رايه ورکړي.

کله چې سروې د ۲۰۱۰ کال په جون مياشت کې ترسره شوه، او د ټاکنو نيټه د سپتامبر مياشت ټاکل شوې وه، له درې برخو څخه زيات ځواب ورکوونکي له راتلونکو ټاکنو څخه خبر وو او ورته شمير ځواب ورکوونکو ويل چې د رای ورکولو هوډ لري. د ۲۰۰۹ کال د ولسمشرۍ ټاکنو په پرتله د پوهاوي کچه ټيټه وه خو د رای ورکولو اراده په هماغه کچه وه. خو وليدل شول چې د ۲۰۱۰ کال په پارلماني ټاکنو کې د خلکو د ګډون اراده په دغو ټاکنو کې د هغو له واقعي ګډون څخه چې ٪۴۰ اټکل شوې خورا لوړه وه.

په ۲۰۱۰ کال کې بيا هم خلکو د ټاکنو په هکله مثبت تصور درلود. د ځواب ورکوونکو درې په څلور برخې وويل چې هغوی په دې باور لري چې ټاکنې په هيواد کې د چارو د سمون لامل ګرځيدلي دي. مګر ۲۰۱۰ کال په ټاکنيزو نهادونو باندې د خلکو د ډاډ د کميدو شاهد دی. د ټاکنو په خپلواک کميسيون باندې د خلکو باور له ۲۰۰۹ کال څخه کم شوی دی. کيدای شي د دغه کمښت لامل د ۲۰۰۹ کال په ټاکنو کې د دغه کميسيون کړنې وي چې پکښې کميسيون په ضعيف مديريت او تبعيض تورن شو. د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو په درشل کې په سياسي ګوندونو باندې هم د خلکو باور زيات شو خو په ۲۰۱۰ کال کې بيرته تر هغې کچې چې په تيرو کلونو کې ثبت شوی وو، را ټيټ شو.

د ۲۰۰۹ کال ټاکنو په روښانه توګه د خلکو په اعتماد او په ټاکنو کې د ځواب ورکوونکو د ګډون په ليوالتيا باندې اغيزه درلوده. په داسې حال کې چې د ځواب ورکوونکو يو کوچنی اکثريت وايي چې د ۲۰۰۹ کال ټاکنې آزاده او عادلانه وې، دغه شميره د هغو کسانو د شمير په پرتله چې مخکې له ټاکنو يې ويل چې د ۲۰۰۹ کال ټاکنې به آزادې او عادلانه وي، د پام وړ کمښت ښيي. د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو ستونزې چې په سروې کې ورته اشاره وشوه په دې ډول وې: د رايو په شميرلو کې درغلي، د رايو پيرودل، په ټاکنو کې د ښځو په ګډون باندې د محدوديتونو وضع کول لکه د ښځو په ځای د نارينه رای ورکول او د ميړونو له خوا ښځو ته په ټاکنو کې له ګډون څخه ممانعت کيدل، او همدارنګه د رای ورکوونکو او د ګوندونو د فعالينو ګواښول. د ځوابونو له بررسي کولو څخه په ډاګه کيږي چې ډيری ځواب ورکوونکو چې ويل يې د ۲۰۱۰ کال په ټاکنو کې به ګډون وکړي، هماغه کسان وو چې ويل يې د ۲۰۰۹ کال ټاکنې آزاده او عادلانه وې، او هم په دې نظر وو چې ټاکنې د هيواد د د چارو د سمون لامل ګرځيدلي. له دې څخه دا په ډاګه کيږي چې د ټاکنو د پروسې په څرنګوالي باندې د خلکو باور په ټاکنو کې د هغو د ګډون په ليوالتيا باندې فوق العاده مثبته اغيزه لري.

ډېرو ځواب ورکوونکو ډاډ درلود چې د افغانستان حکومت ددې توان لري چې په خپلواکه توګه د ۲۰۱۰ کال ټاکنې ترسره کړي. په عين حال کې ډېرى ځواب ورکوونکي په ټولو سيمو کې د سهيل لويديځ او سهيل ختيځ سيمو په استثنا په دې باور وو چې نړيواله ټولنه تر اوسه هم بايد په دغې برخه کې خپلو مرستو ته دوام ورکړي.

د تيرو کلونو په شان نالوست توب او ښوونې ته نه لاس رسى په افغانستان کې د ښځو تر ټولو لويې ستونزې پاتې دي. وزګارتيا د ښځو دويمه تر ټولو لويه ستونزه وښودل شوه چې په ځانګړې توګه د هيواد په شمال لويديځ او شمال ختيځ کې ورځخه يادونه وشوه چې ورپسې بيا مرکزي سيمې/هزاره جات، د مرکز حوزه/کابل او د هيواد غربي سيمې راځي. دا هغه سيمې هم دي چې بيوزلي په سيمه ييزه او ملي کچه يوه ستره ستونزه بولي. له دې څخه څرګنديږي چې د ښځو لپاره د کاري فرصتونو د نشتوالي اندېښنې په دې اړوند د عمومي اندېښنو يوه برخه جوړوي او دا يواځې د ښځو ځانګړې ستونزه نده. همداشان، د مرکز حوزه/کابل، مرکزي /هزاره جات، او د هيواد شمال لويديځ او شمال ختيځ په ورته وخت کې هغه سيمې دي چې تر ټولو زيات ځواب ورکوونکي يې وايي چې ښځو ته بايد له کور نه بهر د کار اجازه ورکړل شي. دا په دې مانا ده چې په دغو سيمو کې د ښځو د کار لپاره تقاضا او فرصتونه زيات دي.

د ښځو لپاره د انډوليزو تحصيلي فرصتونو په ګډون د جنسيت (جندر) له انډولتوب څخه د ملاتړ کچه بيا هم لوړه وه؛ خو په ۲۰۱۰ کال کې له کور څخه بهر د ښځو له کار سره موافقه تر ټولو ټيټه کچه کې وه. خپله ښځې، نسبتاً کم عمره اشخاص او د کم عايد لرونکې کورنۍ هغه ډلې دي چې زياتره يې د ښځو له کور څخه بهر کار سره خپله موافقه اعلان کړه. دا ټکى په ډاګه کوي چې د کم عايد لرونکې کورنۍ دا موضوع درک کوي چې که چيره ښځې يې هم مزد لرونکى کار ولري، د کورنۍ عايد به يې لوړ شي.

ښځو بيا هم د نارينه وو په پرتله د سياسي رهبري د انډوليز ويش زياته پلوي کوله، په داسې حال کې چې په يو شمير انتخابي ارګانونو کې د ښځينه استازي د درلودو په برخه کې د دواړو جنسونو په نظرونو کې يوڅه توپير موجود وو. د شوراګانو/جرګو، د کليو پراختيايي شوراګانو او د ولسوالۍ پراختيايي شورا ګانو په شان سيمه ييزې کچې ته په نږدې انتخابي جوړښتونو کې د ښځينه استازي له درلودو سره مخالفت کم وو خو د ولايتي شورا او پارلمان په څير لوړو انتخابي ارګانونو کې د ښځينه استازو د درلودو په وړاندې مخالفت زيات وو.

راډيو لا هم د افغانو کورنيو لپاره تر ټولو د لاس رسۍ وړ رسنۍ ګڼل کيږي، په داسې حال کې چې د ټلويزيون مالکيت او له خبرونو څخه د خبريدو او د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د هغه کارول، په ځانګړې توګه په ښارونو کې، ورځ په ورځ مخ په زياتيدو ده. د ټيټ عايد لرونکې کورنۍ تر اوسه هم ټلويزيون او راډيو ته خورا کم لاس رسى لري، ځکه نو کولاى شو داسې نتيجه واخلو چې په افغانستان کې د برقي رسنيو له لارې بيوزلو کورنيو ته د معلوماتو رسول لا تر اوسه هم يو ستونزمن کار دى. له ۲۰۰۹ کال څخه راپديخوا ډيرى ځواب ورکوونکي ګرځنده ټيلفون لري او شمير يې په پرله پسې توګه مخ په زياتيدو ده. د کمپيوټر مالکيت هم له ۲۰۰۸ څخه تر ۲۰۱۰ کال پورې دوه چنده شوى ده، خو د هغو کسانو تناسب چې کمپيوټر لري د هغو کسانو په نسبت چې د معلوماتي ټکنالوژۍ د نورو وسيلو خاوندان دي، کم دى. يواځې په مرکزي حوزه/کابل کې زيات شمير ځواب ورکوونکي اخبار او معلومات د راډيو په پرتله له ټلويزيون څخه تر لاسه کوي ، په داسې حال کې چې په مرکزي سيمو/هزاره جات کې، چيرته چې راډيو او ټلويزيون ته لاس رسى کم دى، انډيوالان او د کورنۍ غړي لا تر اوسه هم د خبرونو او روانو چارو په هکله د معلوماتو د تر لاسه کولو اصلي سرچينې ګڼل کيږي.

شفاهي اړيکې هم د پخوا په شان له خبرونو څخه د خبريدو او د معلوماتو د اخيستو لپاره په پراخه کچه کارول کيږي څرنګه چې له نيمايي زياتو ځواب ورکوونکو وويل چې هغوى په دې منظور له سيمه ييزو غونډو او د جوماتونو له خطابو څخه استفاده کوي. دا حقيقت ددې څرګندونه کوي چې د معلوماتو د خپراوي سنتي لارې تر اوسه هم په افغانستان کې اهميت لري. ځواب ورکوونکو د تير کال په شان سړ

کال هم وویل چې ترجیح ورکوي څو د سیمه ییزو پیښنو په اړه خبرونه او معلومات له خپلو آشنایانو او دوستانو څخه لاس ته راوړي نه له لویانو او سیمه ییزو مشرانو څخه. مگر ناویلي دې پاتې نه وي چې د هغو ځواب ورکوونکو تناسب چې سږ کال دغه خبره کوي د ۲۰۰۶ کال په پرتله کم شوی ده. له بله پلوه د سیمه ییزو او بین المللي راډیو ګانو شهرت د سیمه ییزو پیښنو د معلوماتو د مؤثقو سرچینو په توګه ډیر زیات شوی څرنګه چې له ۲۰۰۸ کال څخه تر ۲۰۱۰ کال پورې دوه برابره شوی ده.

### ۳.۱ د سروې په ساحوي کار کې محدودیتونه او د امنیتي دلایلو له امله د نمونې اخیستنې د مرکزونو بدلون

د امنیتي ستونزو له امله سروې کوونکي په ۲۰۱۰ کال کې د تیرو کلونو په پرتله د تنګ راتګ په برخه کې له زیاتو محدودیتونو سره مخامخ وو چې په پایله کې یې پریکړه وشوه چې د ناامنو سیمو د نمونه اخیستنې مرکزونه به امن سیمو کې له نورو مرکزونو سره بدل رابدل شي. په ۲۰۱۰ کال کې د امنیتي ستونزو له امله دې ته اړتیا پیدا شوه چې د نمونه اخیستنې په ۱۶٪ مرکزونو کې بدلون راشي. دا فیصدي د ۲۰۰۹ کال د سروې د نمونه اخیستنې د مرکزونو د بدلولو رابدلولو له فیصدي څخه چې ۱۲٪ وو لوړه ده او هم د ۲۰۰۸ کال (۳٪) او ۲۰۰۷ کال (۲٪) څخه چې اصلاً د احصائیی له نظره د پام وړ نه وه، څو ځله اوچته ده.

د امنیتي ستونزو له امله د نمونه اخیستنې د مرکزونو بدلول (دویمه ضمیمه: میتودولوژي) د ۲۰۰۷، ۲۰۰۸، ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کلونو تر منځ مقایسه




دا په دې مانا ده چې ددې شونتیا شته چې د ۲۰۱۰ کال په سروې کې د امنیت اړوندې موندنې او نورې هغه ننګونې چې امنیتي اړخ یې یو مهم فکتور ګڼل کیږي د نا امنیو یو کره انځور وړاندی نکړای شي ځکه چې سروې کوونکي پدې بریالي نشول چې د هیواد د نا امنه سیمو په ځینو برخو کې سروې تر سره کړي.

په ۲۰۰۷ کال کې ددې اړتیا ولیدل شوه چې د ټولو ۶۲۶ د نمونه اخیستنې له مرکزونو څخه ۱۱ مرکزونه یې بدل شي ځکه چې دغه مرکزونه په امنیتي دلایلو د لاس رسي وړ نه وو (د ټولو نمونه اخیستنې مرکزونو ۲ فیصده). له نیمایي څخه زیات دغه بدلول رابدلول یواځې په یوه سیمه کې ترسره شول چې سهیل ختیځه سیمه وه (۵۵٪ یا د نمونه اخیستنې ۶مرکزونه)، او همدارنګه له یو په څلورو زیات بدلول رابدلول په دویمه سیمه کې – سهیل لویدیځه سیمه ۲۷٪ یا د نمونه اخیستنې ۳مرکزونه) – تر سره شول. همداراز، د امنیتي ستونزو له امله د نمونه اخیستنې یو مرکز د هیواد په لویدیځ او یو مرکز په مرکزي حوزه/کابل کې بدل شول. د هیواد په نورو سیمو کې د نمونه اخیستنې هیڅ نور مرکزونه بدل رابدل نشول.

په ۲۰۰۸ کال کې د ټولو ۶۵۹ د نمونه اخیستنې له مرکزونو څخه ۱۸ مرکزونه د امنیتي دلیلونو له امله بدل رابدل شول (د نمونه اخیستنې د ټولو مرکزونو ۳٪). بیا هم زیات شمیر دغه بدلول رابدلول په سهیل ختیځ (۶ بدلونونه د ۳۳٪ معادل) او سهیل لویدیځ (۵

بدلونونه د ۲۸٪ معادل) کې تر سره شول خو نور بدلونونه له اته سیمو څخه په اووه سیمو کې تر سره شول چې شمال لویدیځه سیمه ورڅخه مستثنا وه. دوه د نمونه اخیستنې مرکزونه په ختیځ او لویدیځ کې او یو یو مرکز په شمال ختیځ، مرکزي سیمې/هزاره جات او مرکزي حوزه/کابل کې بدل رابدل شول.

په ۲۰۰۹ کال کې د امنيتي دلایلو په اساس د نمونه اخیستنې د مرکزونو بدلول رابدلول ۱۲٪ ته ورسید. په دې کال کې د ۸۲۳ نمونه اخیستنې مرکزونو له جملې څخه ۱۰۲ مرکزونه د سروې کوونکو لپاره د لاسرسي وړ نه وو او په ټولو سیمو کې د نمونه اخیستنې د مرکزونو بدلون ته اړتیا احساس شوه. سربیره پر دې، د نا امنو سیمو شمیر چې د لاسرسی وړ نه وې کم تر کمه په سهیل ختیځ (له ٦ څخه ۱۸ ته) او سهیل لویدیځ کې (له ۵ څخه ۱۷) درې چنده شو او په ټولو نورو سیمو کې هم په حیرانونکي ډول زیات شو څرنګه چې د هیواد په ختیځ او لویدیځ کې له ۲ څخه ۱۴ ته، په مرکزي حوزه/کابل کې له ۱ څخه ۱۳ ته او په شمال ختیځ کې له ۱ څخه ۱۱ د نمونې اخیستنې مرکزونو ته ورسیدل. د هیواد په شمال لویدیځ کې چیرته چې په ۲۰۰۸ کال کې د نمونه اخیستنې د مرکزونو هیڅ راز بدلون ته اړتیا نه وه پیدا شوې، په ۲۰۰۹ کال کې په امنيتي دلایلو په دغو سیمو کې ۱۳ د نمونې اخیستنې مرکزونه بدل شول. همداراز په مرکزي سیمه/هزاره جات کې هم د نمونه اخیستنې دوه مرکزونه بدل شول په داسې حال کې چې په ۲۰۰۸ کال کې هلته یو مرکز بدل شوی وو.

په ۲۰۱۰ کال کې د نمونې اخیستنې له ټولو ۸۸۵ مرکزونو څخه ۱۳۸ مرکزه د امنيتي دلایلو له امله د سروې کوونکو لپاره د لاسرسي وړ نه وو (د نمونه اخیستنې د ټولو مرکزونو ۱۶٪). په ډیري سیمو کې د مرکزونو د بدلون شمیر په زیاته اندازه لوړ شو. هغه سیمې چې له دې پلوه زیاتې اغیزمنې شوي دي د هیواد په سهیل ختیځ (په ۲۰۱۰ کې د نمونه اخیستنې ۲۸ مرکزونه بدل شول په داسې حال کې چې په ۲۰۰۹ کې ۱۸ مرکزونه بدل شوي وو)، سهیل لویدیځ (په ۲۰۱۰ کې د نمونه اخیستنې ۲۴ مرکزونه بدل شول په داسې حال کې چې په ۲۰۰۹ کې ۱۷ مرکزونه بدل شوي وو) او ختیځ (په ۲۰۱۰ کې د نمونه اخیستنې ۲۱ مرکزونه بدل شول په داسې حال کې چې په ۲۰۰۹ کې ۱۴ مرکزونه بدل شوي وو) کې پرتې دي. د شمالي سیمو اوضاع په ۲۰۱۰ کال کې بیا هم د هیواد سهیلي او ختیځو سیمو ته ورته والی درلوده. د هیواد په شمال ختیځ کې د نمونه اخیستنې ۲۳ مرکزه بدل شول په داسې حال کې چې ۲۰۰۹ کال کې ۱۱ مرکزونه بدل شوي وو. همدارنګه د هیواد په شمال لویدیځو سیمو کې په ۲۰۱۰ کال کې د نمونه اخیستنې ۲۰ مرکزونه د سروې کوونکو له لاسرسي څخه بهر وو په داسې حال کې چې تیر کال د بدل شویو مرکزونو شمیر ۱۳ ته رسیده. په غربي زون کې د نمونه اخیستنې د مرکزونو د رابدلولو په اړتیا کې کم بدلون راغی څرنګه چې تیر کال هلته ۱۴ مرکزونه بدل شوي وو او خو سږ کال ۱۲ مرکزونه بدل شول. همدارانګه په مرکزي حوزه/کابل کې دغه شمیره له ۱۳ څخه ۱۰ ته را کښته شوه. دغو سیمو ته د سروې کوونکو نه لاسرسی د هیواد په بیلابیلو برخو کې د ناامنیو د زیاتیدو په مانا ده. په ۲۰۱۰ کال کې مرکزي سیمه/هزاره جات یواځنۍ سیمه وه چې د امنيتي ستونزو له امله د نمونه اخیستنې د مرکزونو بدلون ته پکښې اړتیا ونه لیدل شوه.

د امنيتي ستونزو له کبله د نمونه اخیستنې د بدل شویو مرکزونو شمیر (دویمې ضمیمې ته مراجعه وکړئ) په ۲۰۰۷، ۲۰۰۸، ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کلونو کې د ټولو سیمو تر منځ مقایسه

| هغه د نمونه اخیستنې مرکزونه چې په امنيتي دلایلو بدل رابدل شول | مجموعه | مرکزي حوزه/کابل | ختیځ | سهیل ختیځ | سهیل لویدیځ | لویدیځ | شمال ختیځ | مرکزي سیمه/هزاره جات | شمال لویدیځ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۰۰۷ | ۱۱ | ۱ | ۰ | ٦ | ۳ | ۱ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۲۰۰۸ | ۱۸ | ۱ | ۲ | ٦ | ۵ | ۲ | ۱ | ۱ | ۰ |
| ۲۰۰۹ | ۱۰۲ | ۱۳ | ۱٤ | ۱۸ | ۱۷ | ۱٤ | ۱۱ | ۲ | ۱۳ |
| ۲۰۱۰ | ۱۳۸ | ۱۰ | ۲۱ | ۲۸ | ۲٤ | ۱۲ | ۲۳ | ۰ | ۲۰ |